UNAMA
United Nations Assistance Mission in Afghanistan
Strategic Communications
http://unama.unmissions.org

**امنیت شورا ته د افغانستان په اړوند د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړي استازی نیکولاس هیسم ګزارش**

(څرنګه چې وړاندی شوي)

**نیویارک، ۱۸ ډسمبر ۲۰۱۴**

***

ښاغلي رئیس او د شورا محترمو غړو،

زه غواړم خپل ګزارش په افغانستان کې د ملګرو ملتونو دکورنۍ په استازیتوب د خپل زړه له کومې د تسلیت مراتب د پاکستان وګړو ته د هغه وحشیانه ملي تراجیدي پخاطر چې دوه ورځې مخکې پېښه شوه، په وړاندي کولو سره پیل کړم. د ښونځې پر ماشومانو باندې یو برید چې هېڅکله هم نشي توجهې کیداي.

ښاغلي رئیس،

امنیت شورا ته د تېر ګزارش پر مهال د ټولټاکنو پایلې نه وو اعلان شوي او هېواد په اوږد سیاسې بحران کې و. په خوشحالې سره راپور ورکوم چې مهم او ستر پرمختګونه ترسره شوي دي. یو سیاسې تړون لاسلیک شوي، د ولسمشري او ولایتي شوراګانو د بریالي کاندیدانو نومونه اعلان شوي او حکومت د حکومتولې د یو ستر سمون لپاره ژمن شوی دی.

یوناما د سیاسې ځواک د سوله ایز لېږد له امله هڅول شوی دی. پداسې حال کې د ټاکنو پروسه اوږده او د ننګونو څخه ډکه وه، خو پایله یې یو مشروع مشرتابه دی، چې نوي ماموریت ترلاسه او په پراخه پېمانه ملاتړ ترلاسه کړی دی. ولسمشر غنې او اجرایې رئیس عبداله، د خپلو روانو ژمنو له امله چې د ملې یوالې حکومت د ترتیباتو په کار اچولو کې ترسره کړي، د ستاینې وړ دي. د هغو ژمنو په یادولو سره چې دوي د خپل د مشارکت لپاره رامنځته کړي دي، دوي روښانه کړی دی چې مشارکت د دوي خپله خوښه وه، او پر دوي باندي تحمیل شوی ندی. د دوی د ګډ هدف درک او د سمونونو، د ادارې فساد په وړاندي مبارزه، دوامداره اقتصادې ودې په اړوند د دوی ژمنې په افغان ولس کې د یو تازه او د احساس وړ امید او توقع یې زیاته کړی دی.

سیاسي تړون د یو بیساری او سل سلنه د کاغذ پر بنسټ د ټاکنو د پایلو د ارزولو څخه وروسته ترلاسه شو. دغه ستونزمن عمل، چې د تشو څخه خالې نه و، پداسې ډول سره طرحه او جوړ شوي و چې باید هر اړخېز، دقیقه، خپلواکه او روڼ وي. که څخه هم کامل نه، خو د موجوده نړیوالو پروسو د ښو کړنو سره په مطابقت کې ترسره شو، نه د چا په طرفداری کې و او نه هم د چا په خپله خوښه، چې د وروسته ترلاسه شوي سیاسي تړون او مذاکرې د بنسټ اېښودلو لامل شو.

ښاغلی رئیس،

یوناما پدې قانع شوی و چې د ملي یوالې د حکومت رامنځته کولو کومه بله ښه لاره شتون نه درلود. د دوو کاندیدانو تر منځ سیاسي ترون، سیاسي بحران ته د پای ټکی کېښود چې که نوای حل شوي، په ښه حالت کې به هېواد تقسیم شوي وای او په ناوړه حالت کې تېرو شخړو د اور بیا بلولو لامل شوي وای. ولسمشر غني او اجرایي رئیس عبدالله دا تشخیص کړل چې اوسنې شېبه د دې ده چې باید د سیاسي شخړې پر ځای د هېواد گټې په پام کې ونیول شي، او دوي په خپله وړاندیز وکړل چې په گډه لامبو کول ټاکل بهتره ده تر څو چې جلا جلا ډوب شي.

د دې سره سره، اوس زه سیاسي مشران هڅوم چې ژرترژره د دولتي سترو چاواکو د تعیین او تایید پروسه پای ته ورسوي. یو ښه سیاسي استازی او پر اهلیت ولاړ کابینه کولوي شي په خلکو کې دا باور پیاوړي کړي چې حکومت هوډ لري چې خپلې وعدې پلې کړي. پدې ډول سره د ملي یوالې حکومت ترتیبات خپل کارنده څېره وښيي او دا پیغام ورکړی چې حکومت رهبري لپاره تیار دی.

ښاغلی رئیس،

د لندن د کنفرانس د جوړېدو مخکې د نړیوالې ټولنې زیاته برخه دا پوښتل چې د افغانستان په اړوند برياوي او لاسته راوړنې په څه پېمانه او وارزول شي. یو پراخ توافق دا و چې حکومت باید په دغه کنفرانس کې د مهمو سمونونو په اړوند یوه روښانه ژمنتیا وړاندي کړي او همدارنگه نړیواله ټولنه هم تایید کړي چې د افغانستان سره په دوامداره توگه خپله ژمنتیا وساتې. په خوښې سره غواړم چې اطلاع ورکړم چې دواړه مخې ترسره شوي دي. د حکومت لخوا سند د ځان بسیاینې تحقق تر عنوان لاندې د یو سنجول شوی ستر او زیات اړین سمون پروگرام ویاند دی. دغه سند ټېنگار کوي چې ټولیز حساب ورکونه، شفافیت او بشري حقونو ته خاصه پاملرنه کوي او دا هغه تکې دې چې د افغان مدنې ټولنو لخوا هم ورباندې ټېنگار شوي و.

د هغه خوځښت د ساتلو لپاره چې د لندن د کنفرانس له امله رامنځته شوی دی، د افغانستان حکومت ته لازمه ده چې خپل موجود بودجوي ستونزی حل کړي. څرنگه چې د مالیاتو راټولولو کې لا زیات کمښت راغلی دی او داسې ښکارې چې وضعیت د هغه څه چې په لندن کې د پالیسې بحثونو کې ځای شوي و، لا هم ناوړه وي. د نومبر په میاشت کې د ډونرانو لخوا د بېړنې مرستې تر لاسه کول، د حکومت سره تر زیاته کچه مرسته وکړه چې د ډسمبر تر میاشتې پوري خپل کلیدی مصارف پوره کړي. که څه هم اساسې خنډ لا تر اوسه هم حل شوی ندی. او اړتیا ده چې زیات بقایاجات راتلونکې بودجې ته انتقال او تادیه شې خو دا یو بې پایښت عمل دی او زیات دوام به ونکړي، او د حکومت د پراختیایي اجنډا او د ټیکاو په لور د هېواد د خوځښت مسېر د انحراف د گواښ سره به مخ کړي. نړیوالې ټولنې ته لازمه ده چې د افغانستان د حکومت سره پر یو معقول تدبیر  کار وکړی تر څو، د لندن د کنفرانس څخه وروسته د سترو چارواکو د راتلونکې غونډې لپاره موده کې، د حکومت د سمون اجنډا پلې کړي.

نوي اداره ژمنه کړي چې پر حقوقې، موسساتې او پالیسې سمونونو باندی کار وکړي تر څو په تېرو ۱۲ کلونو کې د بشري حقونو او د ښځو حقونو په ډگر کې، چې په زیاته هڅه او هاند سره ترلاسه شوي دي، باید دوامداره پاتې شي. یوناما به مکرراً اصرار وکړی چې د ښځو د حقونو ساتل او وده ورکول د سولې او پراختیا په لار کې یو مهم گام دی. د همدې موخې پخاطر، زه د ولسمشر هغه ژمنه ستایم کوم چې د حکومت په ستر بستونو کې زیات شمېر ښځې تعیین کړي دي.

د حکومت لخوا د اداری فساد په وړاندې د لومړنې اخیستل شویو مهم گامونو ستاینه باید وشي. دوي ښکاره کړي دي چې د ملي یوالې حکومت د هغو کسانو په وړاندی چې ملي سرچېنې د ځان لپاره وقف کړي دي، د سزا څخه د دوي معافیت ته د پای ټکی  به کیږدي. دا ډول هڅې باید د داسې تدبیرونو سره مل وي چې وکولای شي د مخدره توکو ناقانونه او مخ پر وده سوداگري ناوړه اغیزې، چې پر سیاسي ټولنېزو چارو باندې، واردوي کمرنگه کړي. زه غواړم په دغه اړوند نوره تبصره د ملگرو ملتونو د مخدره توکو او جرم دفتر رئیس یوری فدتوف ته پرېږدم.

ښاغلی رئیس،

څرنګه چې د ولسمشر لخوا په نږدې وخت کې په سیمه ایز تعامل کې ثابت شوی دی، نوی حکومت د ګاونډیو هېوادونو سره د ښو اړیکو د پیاوړي کولو اهمیت تایید کړی دی. افغانستان د خپل سیاسي جغرافیایي موقعیت له امله، د سېمې په ثبات او وده کې ستره او مهمه ونډه لري. دغه هېواد کولای د مرکزی آسیا او د جنوبي آسیا د هېوادونو تر منځ د یو بلقوه پُل په ډول ونډه ولوبوي. یوناما د افغانستان د شمالي ګاونډیو هېوادنو سره به خبری وکړي چې پر پولو باندې د دوي امنېتي اندېښنې، د افغانستان سره د سوداګری د اتصال له لاري په ښه ډول سره ورته رسیدګې کیدای شي، د دې په پرتله چې پر پولو باندې امنیتې ترتیبات کلک کړي.

موږ باور لرو چې په تېر نږدی وخت کې د آذربایجان، چېن، پاکستان او ترکیې سره تړونونه او همدارنګه د سېمه ایز انرژی او ترانسپورت شبکه کولای شي د افغانستان او د هغه ګاونډیو سره د سوداګري او همکاري د پیاوړتیا لامل شي. دا ډول کړنې په خپل ذات کې دندې زیاتوي او د حکومت عواید پیاوړی کوي چې په پایله کې د ټیکاو لامل کیږی. د دا ډول مرستو چمتو کول کوم ډول خیرات ندی بلکې د افغانستان د ټولو ګاونډیو هېوادونو په ګټه هم تمامیږي.

د بېجېنګ ورستنې اعلامیه د افغانانو تر مشري لاندې د یو پر وخت ډیالوګ په اړوند سېمه ایز ملاتړ واضح بیان کړ. دا پخپله تاییدوي چې د سېمه ایزو برخوالو ملاتړ، د هر ډول سولې پروسې لپاره خورا مهم دی. په دغه ډګر کې د چېن هېواد بیانوی شوی تعامل د ستاېنې وړ دی. د ولسمشر غني سفر پاکستان ته، چې تر هغه وروسته د کابل او پاکستان د هېوادونو تر منځ د سترو چارواکو لېدنو ترسره شوي، د یو مخ په وړاندې او لا زیات اغېزمن ډیالوګ لپاره لاره هواره کړه او د دواړو هېوادونو د لا نږدې همکاري لپاره ډګر به چمتو کړي.

ښاغلی رئیس،

ټیکاو او هوساینه، د یو دوامداره سولې په نشتون کې په آسانې سره به ترلاسه نشي. د افغانستان د شخړی حل د پوځي حل په پرتله یو سیاسې حل دی. ولسمشر غنې په خپله دغه موضوع وربښانه کړي او هغو کسانو ته چې د حکومت سره مخالفت کوي بلنه ورکړي چې دغه شخړی حل لپاره یو بین الافغانې ډیالوګ ته داخل شي. دغه ژمنه چې د حکومت او د هغه د مخالفو وسله والو ډلو ته د یو بین الافغانې په نېغه ډیالوګ ته بلنه ورکوي باید وستایل شي. یوناما تیار ولاړ دی تر څو د افغانانو تر مشري لاندې د سولې خبرو او سیاسې پروسې لپاره ملاتړ چمتو کړي او د حکومت سره په مشوره او په دغه اړوند، د ټولو ملاتړ کوونکو خواوو سره به تعامل وکړي.

د جګړي د سوله ایز حل لپاره اړتیا، د دې واقعیت په پام کې نیولو سره چې دغه جګړه د افغانستان پر ولس باندې یو بوګنونکې انسانې لګښت تحمیل کړی دی، لا زیات روښانه کیږي. یوناما د دغه کال د نومبر د میاشتې تر ۳۰ نېټه پوري، د نورو ټولو کلونو په پرتله، له هغه مودې څخه چې په ۲۰۰۸ کال کې د ملکې وګړو د مرګ ژوبلې پېښو ثبت او مستند کول پیل کړی و، د ملکې وګړو د تر ټولو زیات تلفات یا مرګ ژوبلې پېښې ثبت کړی دی. د تېر کال په پرتله د ملکې وګړو په تلفات کې ۱۹ سلنه زیاتوالې راغلی دی چې د ماشومانو په تلفاتو کې ۳۳ سلنه زیاتوالې ښکاره کوي. د دغه تلفاتو زیاتره برخه د شخړی د خواوو د ځمکنې جګړو، په لاس جوړ چاودیدونکو توکو، انتحاری او پېچلې بریدونو له امله رامنځته شوي چې د حکومت د مخالفو وسله والو ډلو لخوا ترسره شوي دي.

په زیاته پېمانه د مارکېټونو په نښه کول، هغه ماین پاکان کوم چې د ناچادو توکو په پاکولو کې مصروف دي، او پر سپورټې او دودیزو پېښو باندی بریدونه د حکومت مخالفو ډلو په تګلاري کې تغیر ثابتوي. د ساري په ډول د نومبر د میاشتې په ۲۳ نېټه انتحاری برید کې چې د پکتېکا په ولایت کې د والیبال د سیالې په لوبه کې ترسره شوه، ۵۳ ملکې وګړي ووژل چې پکې ۲۱ تنه ماشومان وو.

پداسې حال کې چې د افغان امنېتې ځواکونه د ملکې تلفاتو د خوندیتوب مشری په غاړه لري، نړیوال پوځي ځواکونه باید د افغان امنیتې ځواکونو سره په تعامل کې پاتې شې تر څو پر ملکې وګړو باندې د جګړي مخرب او ناوړه اغیزې کم کړای شي.

زه کوالی شم تاسې ته راپور درکړم چې یوناما د طالبانو سره خپل تعامل ته، د ملکې وګړو د تلفاتو څخه د مخنیوي کولو په اړوند د دوي ستر مسؤلیتونه په ګوته کولو کې، دوام ورکوي.

ښاغلی رئیس،

پداسې حال کې چې د ایساف ماموریت پای ته رسېږي، زه غواړم چې د ټولو برخوالو هېوادونو چې په دغه ماموریت کې مرسته کړې د دوي ونډه تایید کړم، او د هغو کسانو درناوي وکړم چې د سوله ایز افغانستان لپاره خپل ځانونه قربان کړي دي.

حکومت اوسمهال په بشپړ ډول سره د هېواد د امنیت مسؤلیت اخیستې دی. افغان ملي امنیتي ځواکونه په مېړانې سره د بلواګری د ننګونو، په مېړانې او ژمنتیا خو ستر لګښت، سره مخ کیږي. پدې اړوند د ناتو او افغان حکومت په ګډه پریکړه کړی چې د ۲۰۱۵ کال د جنوری د میاشتې د لومړي نېټې څخه د پریکنده ملاتړ ماموریت خپل کار پیل کړي او پدې اړوند د دغه شورا پریکړه د ماموریت د ملاتړ لپاره ډېره مهمه ده. د یو دوامداره او د باور وړ نړیوال امنیتي مرسته ډېره مهمه ده.

په تېر نږدې وخت کې د امنیتي پېښو په شمېر کې زیاتوالي د اندېښنې وړ دی. دا لا ډېر وختې دی چې تحلیل شې چې آیا دغه زیاتوالي د نړیوال پوځې ځواکونو د وتلو په وخت کې تصادف کړي او که دا یو نوی عادی عمل دی. یوناما اوسمهال خپل د امنیتي تدبیرونو په ارزونه بوخت دی خو خپل فعالیتونه نه کموي.

ښاغلی رئیس،

کله چې افغان وګړي د ولسمشري او ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې په زیاته پیمانه ګډون او رایه ورکړل، دوي خپل پر دې باور پر بنسټ عمل وکړل چې ګوندې د دوي راتلونکې ښه شي. پداسې حال کې چې وروسته سیاسې کړکیچ د دې لامل شو چې زیات کسان د ډیموکراتیک پروسې ارزښتونه تر پوښتنې لاندې راوړي. نو ځکه دا د حکومت مسؤلیت دی چې افغان رای ورکونکې قانع کړي چې د مناسب سمونونه په ترسره کولو سره داسې ټاکنې ترسره شي چې تقلب پکې کم وي.

پدې اړوند لومړنې ګامونه به دا وي چې حکومت د پارلماني او ولسوالې شوراګانو د ټاکنو د ترسره کولو لپاره حقیقې نېټې نهایي کړي. موږ ولیدل چې د دوي تر منځ سیاسې هوکړې، د ولسې جرګې او ولسوالې شوراګانو ټاکنې مخکې، چې تمه کیده په ۲۰۱۵ کال کې ترسره شي، د یو هراړخیز انتخاباتي سمون زمېنه چمتو کړ. موږ حکومت په پیاوړې توګه هڅوو چې د دغه چمتو شوي فرصت څخه ګټه واخلې او په شفافه او مشورتي ډول سره په دغه پروسه کې د افغان وګړو د شریکولو له لارې، پر انتخاباتي نهادونو باندې د دوی باور ښه کړی.

ښاغلی رئیس،

غواړم چې د خپل سلف، د عمومې منشي ځانګړی استازی ښاغلی یان کوبیش څخه مننه وکړم چې په ډېر یو سخت پړاو کې د یوناما د دفتر مشري کړی دی. هغه له ځانه یو داسې ماموریت پر ځای پرې ایښې دی چې د افغان وګړو په منځ کې د درناوی او د باور لوړې کچې څخه برخمن دی.

نړیواله ټولنه په تېرو ۱۳ کلونو په موده کې افغانستان ته ستر پوځې، مالي او سیاسې ملاتړ چمتو کړی دی. کله چې سپاسې او پوځې لېږد پای ته ورسېږي، پرته له شکه دا ډول مرستې او ملاتړ ډول هم بدلون او تکامل وکړي، په ځانګړی ډول سره چې په راتلونکې کال کې دغه شورا د یوناما پر ماموریت باندې بیا کتنه وکړې. خو د دې ټولو بدلونونو سره سره، هغه څه چې به تغیر ونکړی هغه ګډ هدف دی چې افغانستان باید سوله ایز او خپلواک وي او ورځ تر بله هوسابنې څخه برخمن شي.

ستاسو د پاملرنې څخه مننه.

***

---

**په افغانستان کې د ملګرو  ملتونو مرستندي پلاوي (یوناما)، کابل، افغانستان**

*د لا زیات معلوماتو لپاره اړیکه ونیسئ:* ***Spokesperson-UNAMA@un.org***

***د یوناما ویب پاڼه:*** ***http://unama.unmissions.org – facebook – Twitter – Flickr – You Tube***